# کله چې دوه مسلمانان توره په لاس یو له بل سره وجنګیږي نو قاتل او مقتول دواړه په اور کې دي

له ابو بکرة رضي الله عنه څخه روايت دی وايې چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې اورېدلي دي چې فرمايل يې: "کله چې دوه مسلمانان توره په لاس یو له بل سره وجنګیږي نو قاتل او مقتول دواړه په اور کې دي »، ما وويل: اې د الله رسوله! دا خو قاتل دی چې - اور ته به ځي - نو د مقتول څه ګناه ده؟ هغه وفرمايل: «هغه د خپل ملګري د وژلو لېوالتيا درلود».
[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي چې که دوه مسلمانان په خپلو تورو سره له یو بل سره مخ شي، او هر يو يې د بل د تباه کولو (وژلو) اراده ولري؛ نو قاتل د خپل ملګري د مستقيم وژلو له امله په دوزخ کې دی. د مقتول په اړه صحابه په ستونزه کې ولوېدل: چې څنګه به هغه په جهنم کې وي؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکړ چې هغه هم د خپل ملګري وژلو ته د لېوالتيا له امله په دوزخ کې دی او د قاتل له وژلو نه هېڅ شي منع نه کړ پرته لدې چې قاتل پرې چالاکي وکړه او ترې مخکې شو.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee